مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af
اووم کال، دوولسم گڼه، منی۱۴۰۱هـ.ش

# دترلاسه شوي حرام مال څخه دخلاصون لاره

DOI: 10.64104/v6.Issue12.n2.2022

پوهندوی دوکتور نجیب الله صالح [1]


## لنډیز

داچه مال داسلامی شریعت دسترو اهدافو او پنځه گونو مقاصدو څخه شمیرل شوی دترلاسه کولو لاری یی اسلامی شریعت په تفصیلی احکامو کښی بیان کړی .په نوموړی مقاله کښی دمال مفهوم واضح شوی اوبیا دحرام مال په اړه وضاحت او روښانتیا شوی هغه لاری په گوته شوی چه ډیری مسلما نان دغفلت او یاهم دناپوهی له امله له نوموړو لارو څخه حرام مال ترلاسه کوی لکه غلا،رشوت،سود-ربا-قمار،دمخدره موادو تجارت او ټولی هغه لاری چه اسلامی شریعت ناروا گرځولی.

اسلامی شریعت دحرام مال ساتنه اویا هم له دی لاری خپله سرمایه زیاتول ټول حرام او ناوړه عمل شمیرلی او هرمسلمان یی مکلف کړی ځان تری وساتی .

خوداچه نن سبا دحرام مال دلاسته راوړلو لاری دومر پراخه شوی چه یوګڼ شمیر مسلمانان له ددی مصیبت دارتکاب څخه غافل اوغیر محطاطه کړنه ترسره کوی خوچه کله یی عواقبو ته متوجه شی نو له دی مصیبت څخه دځان ژغورنی په هدف پدی لټه کښی شی چه څنګه وکولای شی چه له نوموړی حرام مال څخه ځان وژغوری .

پدی مقاله کښی دفقهای کرامو دنظریاتو په رڼاکښی هغه لاری روښانه شوی دکومو پواسطه چه یو مسلمان دحرام مال څخه خلاصون پیداکوی .

یومسلمان هیڅکله نشی کولای چه دحرام مال څخه دخپل ځان په ګټه استفاده وکړی بلکه دتوبی دقبول شرط هم همدادی چه ترټولو دمخه دحدرام مال څخه ځان وژغوری .او په پای کی ددی وضاحت شوی چه حرام مال کله هم دبرکت او زیادت لامل نشی کیدای بلکه دانسان دهلاکت سبب ګرځی.


**کلیدي کلیمي: حرام مال، معاملاتو، احتکار، خلاصون لاره**

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۱/۱۰/۰۶
تعداد صفحات: ۱۳
از ۱۰۱ تا ۱۱۳

[1]. استاد پوهنځی شرعیات، پوهنتون ننګرهار، salih.najib@gmail.com